# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر څلورمه | ۶۰٤مه ګڼه


پوهنتون


۴ مخ

## حنظله د لوړو زده کړو خصوصي موسسه



د حقوقو پوهنځي د محصلینو د وړتیا لوړولو او عملي کار لپاره د حقوقي کلینیک درلودل، کتابتون، کمپیوټر لب او لابراتوار د دې موسسې هغه امکانات دي چې د محصلینو په واک کې یې ورکړي دي.

## ترانسپورت وزارت: ډېر ژر به د هرات - خواف د اوسپنیزې پټلۍ د سرحدي تمځایونو کار بشپړ شي



ترانسپورت وزارت وايي، چې د هرات – خواف د اوسپنیزې پټلۍ د سرحدي تمځایونو کار به ډېر ژر بشپړ شي.

د یاد وزارت مرستیال ویاند اشرف حق شناس وايي چې د افغانستان – ایران د پولې په صفري برخه کې سرحدي ستېشنونه جوړېږي. نوموړی زیاتوي، د هرات–خواف اوسپنیزه کرښه د ګډې پولې په صفري برخه کې جوړېږي او کارونه به یې له دریو میاشتو څخه به په لږه موده کې بشپړ شي.

حق شناس وايي، چې د دغې اوسپنیزې کرښې یوه برخه د ایران او پاتې برخه به د افغانستان له خوا جوړه شي.

د یادونې ده چې دغه کرښه د ۳۵ کیلومترو پر اوږدوالي د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ د آسانتیا لپاره جوړېږي.

د چارواکو په وینا، دغه نوې اوسپنیزه کرښه نه یوازې د بار وړلو لګښتونه کموي، بلکې د سوداګریزو توکو له چټک لېږد رالېږد سره هم مرسته کوي.

# له مذاکراتو زیاتېدونکې ناهیلي؛

## خونړۍ برید په ننګرهار کې ۵۷ کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



۳


د غني‌خېلو وحشت او مناسب غبرګون
۲ مخ

آیا د جنايي جرايمو مخنیوی ناممکن دی؟
۲ مخ

بین الافغاني مذاکرات؛ د جمهوریت ظرف چې خالي به پاتې شي!
۳ مخ


## کورنیو چارو وزارت: په تېرو دوو اونیو کې د جګړو له کبله ۲۱۰ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

کورنیو چارو وزارت وايي چې په تېرو دوو اونیو کې د طالبانو د بریدونو له امله ۲۱۰ ولسي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي.

د دغه وزارت ویاند طارق ارین وايي چې له دې شمېرې ٦۹ ولسي وګړي وژل شوي او ۱۴۱ نور ټپیان شوي دي. د ارین په وینا، طالبانو په تېرو دوو اونیو کې کابو ٦۵۰ یرغلیز بریدونه کړي او دغه راز ۸٦ ماینونو ته یې چاودنه ورکړې ده. د کورنیو چارو وزارت ویاند په دغو بریدونو کې د افغان ځواکونو او طالبانو د تلفاتو شمېر څرګند نه کړ، خو زیاته یې کړه چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د طالبانو د بریدونو په ځواب کې دغې ډلې ته درنه مرګ‌ژوبله اړولې ده.

د کورنیو چارو وزارت ویاند همدا راز د ننګرهار په غني خېلو ولسوالۍ کې د تېرې ورځې موټربم برید د طالبانو کار بللی او ویلي یې دي چې په دغه برید کې ۱۳ تنه ولسي وګړي وژل شوي او ۳۸ نور ټپیان دي. خو د دغه برید مسوولیت په رسمي ډول تراوسه چا نه دی منلی او طالبانو هم د کورنیو چارو وزارت د ادعاوو په تړاو څه نه دي ویلي. په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې دا شمېرې په داسې حال کې خپرېږي چې د افغان دولت او طالبانو د سولې د مرکچې پلاوي د تماس ډلې د سولې د رسمي مذاکراتو د پیل لپاره د تګلارې په جوړولو توافق ته نه دي رسېدلي. افغان حکومت، یو شمېر ملي او نړیوالو بنسټونو په افغانستان کې د جګړو او تاوتریخوالي له امله ولسي وګړو ته د مرګ‌ژوبلې د اوښتو په تړاو اندېښنه ښودلې او له طالبانو څخه یې غوښتي چې تاوتریخوالی کم او اوربند وکړي.

## طالبان د پاکستان په مرسته له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو شول



۲ مخ

## حقوق‌دانان: ادامۀ کار سرپرستان را در نهادهای حکومتی غیرقانونی و فسادزا می‌باشد



در حالی‌که از امضای توافق سیاسی میان عبدالله عبدالله و اشرف غنی و ایجاد حکومت تازه در حدود پنج ماه می‌گذرد، اما تاکنون کابینۀ این حکومت تکمیل نیست و تقریباً تمامی وزارت‌خانه‌ها و نهادهای کلیدی از سوی سرپرستان اداره می‌شوند. شماری از حقوق‌دانان ادامۀ کار سرپرستان را در نهادهای حکومتی غیرقانونی و فسادزا می‌دانند. از این میان، گل رحمان قاضی، رئیس پیشین کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی می گوید که بربنیاد قانون، حکومت برای دوماه می‌تواند وزیران را هم‌چون سرپرست بگمارد اما کار سرپرستان برای بیشتر از دوماه مخالف قانون و غیرمشروع است: «سرپرستی یک عملی است که شامل فساد اداره می‌شود.»

غلام محی‌الدین منصف، رئیس کمیسیون تقنین مشرانو جرگه نیز بیان داشت: «هرقدر این روند تأخیر شود در حقیقت این نقض قانون است و این روند به کندی مواجه می‌شود.»

در این میان، شماری از سیاست‌گران می گویند که از هفت سال به این‌سو حکومت، بیشتر از سوی سرپرستان اداره شده‌است و سرپرستان کمتر پاسخ‌گو می‌باشند. سید اسحاق گیلانی، رهبر حزب نهضت همبستگی ملی افغانستان گفت: «ملت افغانستان بسیار زیاد شدید انتظار از این استند که یک حکومتی به تأیید مرکز قانونی افغانستان که ولسی جرگه است داشته باشند.» در این میان، وزیر دولت در امور پارلمانی می‌گوید که سندهای نامزد وزیران زیر کار کمیسیون‌های ولسی جرگه استند و تا یک هفته دیگر نامزد وزیران برای گرفتن رأی اعتماد به مجلس معرفی خواهند شد.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل درېیمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

Aksos Book Store

www.aksosbookstore.af

## دریـــځ

### د غنيخېلو وحشت او مناسب غبرگون

د ننگرهار په غنيخېلو ولسوالۍ کې په يوه موټربم برید کې شاوخوا شل کسان وژل شوي او تر پنځوسو ډېر ټپیان دي. په وژل شوو او ټپیانو کې د ماشومانو او ښځو په گډون لويه برخه يې ملکيان دي. دا برید د خلکو له توند غبرگون سره مخ شوی او د انسانیت او اسلامیت خلاف عمل يې بللی دی. ارگ وايي، طالبانو او نورو ترهگرو لاس یو کړی او دا ډول بریدونه کوي، خو نه طالبانو او نه هم کومې بلې ډلې تر پرون ناوخته پورې د دغه برید پړه منلې وه.

دا برید په رښتیا هم یو وحشيانه برید و، چې پکې لويه برخه قربانیان ملکي وگړي وو. پرون پر ټولنیزو رسنیو د وژل شوو او ټپي ماشومانو تصویرونه خپرېدل چې په لیدو يې د هر انسان زړه ځړېکه کوله او پر قاتلينو يې لعنت وايه. دا ډول بریدونه چې هر څوک کوي او د هرې موخې لپاره يې کوي، د توجیه وړ نه دي او دا وحشي، شیطاني او ظالمانه کړنه ده.

دا چې برید چا کړی، لا هم معلومه نه ده، خو په داسې حال کې چې د سولې خبرې روانې دي، دا برید د دې خبرو خلاف کار دی او په واضح ډول د سولې د خبرو د تخریب هڅه ده. دا برید چې هر چا کړی، له شک پرته چې یوه موخه به يې همدا وي چې د سولې روانې خبرې تخریب کړي او یو ځل بیا افغانستان د جگړې شدت ته ور ټېل وهي. دا چې د برید موخه د سولې د خبرو تخریب دی، نو ځکه په غبرگون کې هم باید دې چارې ته پام وشي. دغه برید ته د ښکېلو اړخونو غبرگون باید د دې پر ځای چې د سولې د تخریب لامل شي، برعکس د سولې د پروسې له بریا او پرمختگ سره باید مرسته وکړي. که طالبانو د دغه برید پړه اخیستې وی، نو بیا باید د هر لوري غبرگون توند او تېز وی او پر طالبانو باید له دې امله سخت فشارونه راغلي وی، خو دا چې طالبانو د یاد برید پړه نه ده اخیستې او نه هم کوم څه شته چې ثابته کړي، دا برید طالبانو کړی، نو پر دوی يې پړه اچول، د سولې له تخریب سره مرسته کوي او دا همغه څه دي چې د دغه برید پلانوونکو غوښتي دي. له بده مرغه د ارگ غبرگون همداسې دی؛ پرته له دې چې طالبان د برید پړه واخلي او یا کوم ثبوت وي چې دا برید طالبانو کړی، دوی طالبان مسوول وگڼل. پر یو بل پړه اچول یا تورنول نه یوازې دا چې په جگړه او سوله کې کومه مثبته گټه نه کوي، بلکې د جگړې د زیاتوالي او د سولې په برخه کې د خنډ سبب گرځي.

دواړه لوري باید درک کړي چې د سولې دښمنان شته او په شدت سره تخریب کوي؛ له همدې امله دوی نه یوازې دا چې د سولې په برخه کې باید چټک کار وکړي او انعطاف وښيي، بلکې اوس هم باید هڅې وکړي چې د دغه ډول بریدونو مخنیوی وشي. دا اوس د حکومت او طالبانو دواړو دنده ده چې د هغو کړنو او بریدونو مخه ونيسي چې د سولې د تخریب سبب گرځي. د دې تر څنگ دواړه اړخونه باید د پرونیو شهیدو او ټپي ماشومانو وینو ته وگوري او د سولې په برخه کې رښتيني هلې ځلې وکړي، څو دغه ډول وحشتونه یو مخ ورک شي.

# آیا د جنايي جرايمو مخنیوی ناممکن دی؟

لیکوال: نصرت الله حقپال

د افغانستان د نورو لویو ښارونو په گډون، له استثنا پرته، د کابل ښار هره ورځ د لسگونو جنايي جرايمو شاهده ده چې په نتیجه کې يې ډېر ځاني، مالي او رواني زیانونه عام ولس ته اوړي. د دغو جرامو پایله؛ د مجنی علیه وژل، ټپي کول، د پیسو، موبایل، کمپیوټر، موټر او نورو اړينو وسایلو له لاسه ورکول او د ستر وحشت تجربه کول دي.

کابل ښار کې ژوند دومره تریخ شوی چې ډېری هېيوال او کاروباریان خپل دوکانونه د ماښام له لمانځه وړاندې بندوي او ځان په رڼا کې خپلو کورونو ته رسوي؛ ځکه چې کله لږ تیاره شي، نو بیا خپلو کورونو ته تلی نه شي او په لارو او کوڅو کې يې غله درويي او لوټي يې.

افغان حکومت او امنیتي اداري يې د غفلت په خوب ویدې دي. افغان حکومت او د کورنیو چارو وزارت د نندارچي (سیل بین) نقش لوبوي. دوی خپل مسوولیت په ضعیفه توگه هم نه ادا کوي او د دې اراده نه لري چې خپل مکلفیت په اخلاص سره ادا کړي. حکومت او د کورنیو چارو وزارت هغه وخت له خوبه سر راپورته کوي، چې په ډله‌ییزو او ټولنیزو رسنیو کې د جنايي جرایمو د پېښو په هکله رپوټونه او غوغا گرمه شي. که نه نو، افغان حکومت او امنیتي اداري اصلاً خپل مسوولیت نه پېژني او داسې برېښي چې له جنایتکارانو سره ملگري وي. دا رسنۍ او سوشیل میډیا ده چې دوی خپل مسوولیت او د امنیت ټینگښت ته متوجه کوي، چې داسې باید نه وای او دوی خپله خپل مسوولیت او مکلفیت پېژندلی او په پوره اخلاص يې ادا کولی.

پوښتنه دا ده چې ولې کابل او ډېری نورو ولایتونو د ځنگله تر قانون لاندې ژوند غوره کړی؟ آیا دغه حاکم وحشت یوه طبیعي پدیده ده او که نور بیروني (انساني) عوامل دي چې اوسنی سخت ناوړه حالت يې رامنځ ته کړی دی؟

۱ – خلک هغه څه کوي چې نظام يې کوي او غواړي يې. دا د انسانانو طبیعت دی چې د حاکم نظام له اصلي غوښتنو او کړنو سره ځان عیاروي. که حاکم نظام عادل او صالح وي، نو مطلق اکثریت ولس کوښښ کوي چې په خپلو کړو وړو کې عدالت او صداقت رعایت کړي؛ خو که چېرته حاکم نظام فاسد، ظالم، خاین او کاذب وي؛ نو خلک هم د فساد، ظلم، خیانت او تیري خوا ته مخه کوي، چې بالاخره جامعه ټوله په فساد روږدې کیږي او فساد په ټولنه کې لومړی خبره کوي.

د افغان دولت بنسټ په پیل (۲۰۰۱) کې له مافیايي کړیو جوړ او کېښودل شو. د دولت شتمنۍ او لوړې څوکۍ د مافیايي کړیو او ډلو تر منځ وویشل شوې او له بیت المال څخه دې ډلې او په دوی پورې تړلي کسان په لوړه کچه تغذیه کیدل. د څو کلونو په تېرېدو سره، کله چې د دغو مافیايي کړیو پر مشرانو د بهرنیو ځواکونو استخباراتي سوغاتونه او قراردادونه کم یا بند شول، نو د دوی تور عاید له پخوا څخه څو ځله کم شو او په کمو امکاناتو، د دوی قناعت نه کیده او خپلو کسانو ته يې د پخوا په اندازه پیسې، معاش او نور امکانات نه شو برابرولی. همدا شو چې د مافیايي ډلو مشرانو خپلو مسلح کسانو ته مخه ورکړه چې په نامشروع (جنايي جرايمو، غصب، اختطاف او ...) توگه خپله اړتیا پوره کړي او مشران به يې سیاسي ملاتړ کوي.

۲ – په افغان حکومت کې، د امنیت د ساتلو بنسټونه دومره په فساد کې ډوب او ملوث دي چې شاید د مکسیکو د مخدره توکو کارتلونه هم په دې اندازه نه وي. پر امنیتي سکټور باندې داسې تورونه او رپوټونه خورا زیات دي چې دوی له جنایتکاره ډلو او اشخاصو سره لاس لري او ډېری مسوولین له جنايي شبکو سره شریک دي. یانې کومې پیسې چې د جنايي جرایمو شبکې د جنایاتو د ارتکاب په ترڅ کې تر لاسه کوي، یوه برخه يې امنیتي مسوولینو او چارواکو ته ورکوي. که چېرته پولیس او د دوی مسوولین له جنایتکاره ډلو سره لاس او تماس و نه لري، نو دا ځنگه امکان لري چې جنايي مجرمین دې په دومره سپین سترگۍ، په رڼا ورځ او د ښار په منځ کې له خلکو موبایل، موټر او پیسې لوټ کړي؟ که د اړوند ساحې امنیتي حوزه ورته زمینه سازي ونه کړي او ځان تېر نه باسي، دا یو ناشونی کار دی. نتیجه دا چې خپله نظام نه غواړي چې د جنايي جرایمو مخنیوی وکړي او خپله په یو ډول ورکې دخیل دی.

د دې تر څنگ، که کوم امنیتي چارواکی په رښتیا وغواړي چې د جنايي جرایمو په ضد مبارزه وکړي او جنایتکاران جدي سرکوب کړي؛ نو سمدلاسه له دندې گوښه کیږي او یا ورته ویل کیږي چې لږ گوزاره کوه. دلیل يې دا دی چې نظام له سره جوړ له مافیايي ډلو دی او هغوی د دې جنایتکاره شبکو او اشخاصو ملاتړ کوي، چې دا کار بیا د یو تعداد صالحو او صادقو امنیتي چارواکو روحیه له منځه وړي او نور هیڅوک له جنايي مجرمینو سره مناسبه مبارزه نه کوي او ځان هم ور سره نه مواجه کوي.

۳ – قضا او قضایي ارگانونو معنی او وجودي فلسفه دا ده چې هر څوک چې گناه (هغه عمل چې شریعت/ قانون منع کړی وي، تر سره کړي؛ یا هغه عمل چې شریعت/قانون يې د تر سره کولو غوښتنه کړې وي، تر سره نه کړي) کوي، هغه باید د خپلې گناه سزا و وینې او په راتلونکې کې د گناه مرتکب نه شي او هم د نورو لپاره د پند او عبرت سبب شي.

خو په ډېر تاسف باید ووایم چې د حاکم نظام قوانین او عدلي- قضایي جوړښت داسې دی چې خپله فساد زیږوي او د جرایمو په کمولو کې مؤثر نه دی، بلکې خپله د جرایمو د ډېرېدو یو له عواملو څخه دی. د ملي او بین المللي ادارو لخوا په تکرار سره په لویه څارنوالۍ او قضایه قوه کې د لوی او حاکم فساد، بډې، خویش خورۍ او غیر عادلانه پرېکړو په اړه ویناوې شوې او راپورونه ورکړل شوي دي. د افغانستان د جزا قوانینو کې حاکمه او مروجه جزا، نقدي جریمه او زندان دی. زندان د مجرم د اصلاح، د هغه او د نورو مجرمینو د پند او عبرت سبب نه کیږي؛ بلکې په زندان کې هغه نور هم حرفيي او مسلکي جنایتکاره ترې جوړېږي او کله چې آزاد شي، نو بیا په داسې جنایتکاره بدل شي چې له وژل کیدو پرته، بله هیڅ لاره د اصلاح ورته پاتې نه وي.

ډېر عیني شاهدان وايي چې څارنوالي او محاکم، د فساد اصلي مراکز دي. داسې راپورونه هم خپاره شول چې په یوه کال کې افغانانو شاوخوا څلور میلیارده ډالره رشوت ورکړی دی. نه څارنوالۍ مجرمینو ته لازمه جزا غواړي، نه محکمه او قاضي له جرم سره متناسبه جزا مجرم ته اوروي. همدا بل لامل دی چې مجرمین روحیه اخلي او پوهیږي چې که ونیول شي، نو څو وخته به زندان تېر کړي او آزاد به شي.

۴ – مجرمینو ته لازمه/مناسبه جزا نه ورکول کیږي. هر جرم خپله جزا لري. که د هغې خلاف جزا ورکړل شي، نو بیا نه یوازې چې گټه نه کوي، بلکې تاوان کوي او د مجرم د اصلاح او د نورو د پند سبب نه گرځي.

جنايي مجرمینو ته باید هغه سزا ورکړل شي چې د خالق څښتن (الله تعالی) لخوا ورته ټاکل شوې ده؛ ځکه چې الله ج انسان پیدا کړی او د هغه ټول خواص او ظرفیتونه ورته دقیق معلوم دي. هغه ذات پوهیږي چې کومې موئده سزاگانې کولی شي چې جنایتکاره اشخاص له جرم څخه منع کړي او نورو ته پند شي. که چېرته جنايي مجرمینو ته هغه جزا ورکړل شي چې اسلامي شریعت ټاکلې، نو ټول خلک به د جنايي جرایمو په کمېدو کې د پام وړ کمښت ووینې. د بېلگې په توگه، د سارق او قطاع طریق لپاره شریعت د لاس پرېکولو، د لاس او متضادې پښې پرېکولو او وژلو سزا غوره کړې ده. که چېرته افغان دولت دغه سزا په صداقت او رښتیا سره په سارقینو او قطاع طریقو پلې کړي، نو تاسو به وگورئ چې د جرایمو کچه څومره را ښکته کیږي.

خو افغان حکومت دا کار نه کوي، ځکه چې بیا بهرنیان خپه کیږي او بیا وايي چې دا د بشري حقوقو خلاف سزاگانې دي؛ خو هغه په سلگونه خلک چې هره ورځ د جنايي مجرمینو لخوا وژل کیږي، ټپیان کیږي، مالونه يې لوټ کیږي او په سخته وېره کې ژوند کوي، هغه نه انسانان دي او نه هم بشري حقوق لري او پوښتنه يې هم باید ونشي؟ «سخته ظالمانه او له انصافه لرې خبره ده».

اوسني چارواکي، خپله موجوده جزايي قوانین او حاکم نظام د جنايي جرایمو په ډېرېدو او عام کولو کې لوی نقش لوبوي او مجرمین لا پیاوړي کوي. قانون د جرم مخنیوي او د مجرم د اصلاح او عبرت سبب نه، بلکې د تشویق او ترغیب سبب کیږي. که دا پورته عوامل او اسباب له بنسټه تغییر نه شي، نو دا به ډېره لرې وي چې روان وحشت ته دې د پای ټکی کېښودل شي یا دې حتی کم شي. هره ورځ به عام خلک د جنایتکارانو هدف کرځي او خلک به په وحشت او درنه وېره کې ژوند کوي.

## <u>خلیلزاد:</u> طالبان د پاکستان په مرسته له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو شول

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد په افغان سوله کې د پاکستان د رول ستاینه کړې او ویلي يې دي چې طالبان د پاکستان په مرسته له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو شول.

د پاکستان د خصوصي تلوېزیون جیو د راپور له مخې، زلمي خلیلزاد دغه څرگندونې له امریکایي رسنیو سره په تازه څرگندونو کې کړې دي. هغه زیاته کړې چې امریکا له تېرو دوو کلونو راهیسې د افغان سولې پروسې لپاره هلې ځلې پیل کړې وې او په دې ټوله موده کې پاکستان همکاري کړې ده. د خلیلزاد په وینا، طالبان له افغان حکومت سره خبرو



اترو ته پاکستان اماده کړي او دغه راز يې هڅولي، څو تاوتریخوالی کم کړي.

هغه وايي، پاکستان پوهېږي چې د افغانستان سوله او ثبات د دغه هېواد په گټه دي، نو ځکه په دې برخه کې همکاري کوي. د امریکا ځانگړي استازي ویلي چې تر ٤٢ کلونو جگړو وروسته د لومړي ځل لپاره افغانان د خبرو مېز ته راټول شوي دي. د هغه په وینا، اوس سولې ته هیله مندي پیدا شوې، خو د دې پروسې پر وړاندې ننگونې هم شته دي.

د یادونې ده، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او طالبانو ترمنځ د ۱۳۹۹ لمریز کال د وږي په ۲۲مه، په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو رسمي مراسم ترسره شول، خو تر اوسه دواړه ډلې پر طرز العمل او اجنډا کومې موافقې ته نه دي رسیدلي.

له دې سره همهاله د هېواد په گوټ گوټ کې جگړو او نښتو زور اخیستی چې پر افغان ځواکونو او طالبانو سربېره پې تر ډېره ملکیانو ته هم درنه مرگ ژوبله اوښتې ده. که څه هم افغان حکومت، امریکا، نړیوالو بنسټونو او گڼو هېوادونو پر طالبانو غږ کړی چې تاوتریخوالی کم او د سولې خبرو د بریالي کېدو لپاره دې هڅه گړندۍ کړي، خو طالبان بیا وايي، تر هغې چې په بین الافغاني خبرو کې د محسوس پرمختگ نه وي، شوی، دوی خپلو جگړو ته دوام ورکوي.

# بین الافغاني مذاکرات؛
## د جمهوریت ظرف چې خالي به پاتې شي!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د امریکا شل کلن یرغل، نیواک او استعمار زموږ له ملت څخه د پېړیو خوښي، سکون، فرصتونه، ارمانونه او د ګډ سباوون او ګډ افغانستان جوړولو سپېڅلې هیلې تالا کړې، دربدره یې کړو، تر کډوالۍ یې ورسوو او د یوه ملت هر جدجهد یې په بلواکۍ لاهو او محکوم کړ.

په همدې موخه امریکا او ملاتړي یرغلګري سفارتونه یې په کابل کې موږ د جاسوسۍ د تولید، د نفرتونو د خپرولو او د تپلواکۍ د دوام او روزلو ځالې بولو او پر دې باور یو چې تر کله هم د دوی کرغېړن وجود پای ته ونه رسیږي، د دې سفارتونو او سیاسي استازولیو شتون افغان ملت، زموږ ازادۍ او حتی د دې خاورې عزت او د تاریخ عزمت ته سپکاوی دی.

ولې زموږ د دې افغان درک خلاف، پر امریکایي لات او عزاء تکیه کوونکي او له بهره وارد شوي او یا د هغوی په شتون کې د زردارو خاوندان بیا داسې نه انګیري، پر جګړې ټینګار کوي، افغانستان امن او ګل ګلشن ګڼي او لا اوس هم د پردو شتون د وطن د بقاه په نوم تفسیروي او طالبان د امریکایي او پردیو شرایطو منلو ته رابولي، سولې ته خنډونه راولاړوي او بالاخره لا اوس هم د پردو وسیله او له افغان دریځه د اروپا او امریکا د بلچارو او ورځچارو ګټو توجیه کوونکي دي.

خبره تر بین الافغاني مذاکراتو او په دوحه کې د افغان مذاکراتي پلاوي د یوه غړي تر خبرو او دلته په کابل کې د ډاکتر غني د جمهوریت په نوم د آمریت د لومړي مرستیال صالح تر هغو ویناوو او دریځونو را یاده شوه، چې وایي جمهوریت ورته سره کرښه ده، د اساسي قانون له بابونو نه تېرېږي، ښځې دې هم د میوند د ملالې په څېر نه؛ بلکې د پرموټ حقونه دې ورته خوندي وي، لنډمهاله حکومت هم نه منو او د ۲۰۰۱ کال په څېر چې طالب ته یې یوازې د مرګ او زندان انتخاب ورکړی و، هغه حکومت غواړو.

اوس د جمهوریت امریکایي لوښی ګرځوي او د غني د مذاکراتي پلاوي د یوه غړي ډاکتر امین احمدي په خبره، دوی قطر ته تللي څو دغه غټ ظرف ډک کړي.

واقعیت او د جمهوریت د ظرف لېږدوونکو ظرفیت

د جمهوریت د ظرف (لوښي) ډکوونکو د هوا ګزوونکو دریځونو خلاف، د افغان- امریکا جګړې د پای ته رسولو پر مهال له طالبانو سره د امریکا د مذاکراتو پر مهال ډېر داسې دریځونه مات شول، چې د جمهوریت د بقاه، حیثیت او تعریف په دریځ کې د جمهوریت اوسني خیالي شرایط له پیله ناقص، مات، بې ارزښته او د یوه عادي امریکایي فشار په پایله کې دړې وړې شوي دي.

د بېلګې په توګه، د جمهوریت د مدافعانو استدلال دا و چې روانه جګړه بین الافغاني ده، بناً طالب باید یوازې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، له امریکا سره د خبرو کول یې خیالي بحث باله، مګر امریکا لاړه له طالب سره یې خبرې پیل کړې، د خبرو پر مهال یې دا ډنډوره غږوله چې امریکایان غواړي د بین الافغاني خبرو لپاره لاره پرانیزي؛ که نه، د طالب اصلي طرف خو دوی دي او که امریکا داسې ونه کړي، نو دا په دې مانا چې زموږ خپلواکۍ ته سپکاوی کوي، امریکایانو نه یوازې له طالب سره د خپلو عسکرو د وتلو بحث وکړ؛ بلکې یوه داسې هوکړه یې ورسره لاسلیک کړه چې نړیوال مشروعیت یې خپل کړ، امنیت شورا هغه ومنله، سترو قدرتونو کاناډا او اروپا هغه تایید او روسیې، چین، امریکا او ایران یې په ملاتړ مشترکې اعلامیې صادرې کړې او په دې هوکړه کې امریکا او یرغلګرو ملاتړو یې حتی له طالبانو سره تر سولې وروسته د افغانستان په حکومتواله او د نظام د ډول پر څرنګوالي هم د افغانستان د اسلامي حکومت په نوم ومنل او له دې سره د امریکا په فشار د جمهوریت مدافعانو د طالبانو زرګونه اسیران چې یوازې د وطن د ازادۍ په ګناه، د امریکایي نیواک د نه منلو په سزا او د پردو د شړلو په تور نیولي وو، ازاد کړل.

په دغه جریان کې د طالبانو د انشعاب او پاشلو ظالمانه هڅې چې د داعش په څېر د وحشتکارو تکفیري ډلو رامنځ ته کول یې بېلګه ده، وشوې، ملا منان نیازی یې د ملي امنیت د اپراتیفي پیسو په زور د هرات په دښتو کې یاغي ګرۍ ته وهڅاوه، د طالب رهبرانو په نښه کولو کې یې همکاري وکړه، د جګړې د ګټلو په پاره د بمونو د مور په نوم بمونه وکارول شول، د جګړې اعلانونه وشول، بندیان بمبارد شول او د ولسمشر د لومړي مرستیال صالح دنده د یوه اپراتیفي جاسوس غونډې د ارګ د مرستیالۍ پر ځای د طالب غندلو، بد پېژندلو او د سولې او امن خلاف د پریزنټېشن ورکوونکي ته تنازل وکړ. دغه ډول امنیتي کردارونه، د جمهوریت په نوم آمریتي دریځونه، چارې او دسیسې د دې ښودنه کوي چې د طالب دا باور چې که په افغانستان کې هر ډول بدلون راځي، نو هغه د یوه نوي نظام او جوړښت له راتګ څخه بغیر ناممکن دی؛ بیخي سم دی. دا ځکه د جمهوریت دا پردی ظرف او د ظرف لېږدوونکو ظرفیت د سیال او خپل اختیاره افغانستان له سترې سینې او تاریخي عزت او عزمت څخه خورا وړوکی، محدود او کوچنی دی.

پر همدې بنسټ د جمهوریت په نوم د آمریتپالو مخینې، مقاومت او ظرفیت ته په کتو، پر دې باور یم چې په دوحه کې د جمهوریت ظرف به کله هم ډک نه شي، بلکې مات به شي، ټوټه ټوټه به شي او د تاریخ خځلدانې ته به واچول شي.

افغانستان د یوه تاریخ او افغانان د یوه غښتلي ملت په توګه د پراخې تمدني شتمنۍ لرونکي دي، دوی به انشاالله ډېر ژر پر خپلو بنسټونو، روایتونو، مزاجونو او د خپل حال او ظرفیت او ظرافت په وجود کې د یوه سوچه اسلامي، یوه مقتدر سیاسي او یوه ټولمنلي ملي نظام او سیال حکومتواله څښتنان شي.

# له مذاکراتو زیاتېدونکې ناهیلي؛
## خونړي برید په ننګرهار کې ۵۷ کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



د سولې له خبرو سره هممهاله د تاوتریخوالي په دوام، د هېواد په ختیځ ولایت ننګرهار کې خونړی برید شوی دی. په برید کې د یوه نظامي کس په ګډون پنځلس تنه وژل شوي او ۴۲ نور ټپیان شوي دي. په وژل شوو او ټپیانو کې هغه ماشومان هم شامل دي چې په زده کړو او تعلیم پسې وتلي وو. د طالبانو په ګډون تر دې دمه هېڅ ډلې د دې برید مسوولیت نه دی منلی، خو افغان حکومت یې د طالبانو کار بولي. ارګ او کورنیو چارو وزارت ویلي چې دغه برید طالبانو کړی او د ملکي وګړو د وژلو مسوول دي.

په دوحه کې په دې نیت بین الافغاني خبرې پیل شوې دي چې په افغانستان کې روانه جګړه ختمه شي او د افغانانو د وینو بهېدنه ودرول شي، خو پایلې تر دې دمه برعکس دي، جګړې شدیدې شوې دي، خونړي بریدونه کېږي او د ښکېلو لورو ترمنځ د نښتو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي. وروستۍ پېښه د ننګرهار په شینوارو ولسوالۍ کې خونړی برید و. افغان حکومت وایي چې بریدګرو د غني خېلو په بازار کې د شینوارو ولسوالۍ پر مرکز د برید پلان درلود، خو ځانمرګي بریدګر د ولسوالۍ ودانۍ ته نږدې له یوه جومات سره چاودنه کړې، چې له امله یې څوارلس ملکیان وژل شوي دي. د ننګرهار د والي ویاند عطا الله خوګیانی وایي چې نورو بریدګرو غوښتل په چاودنه پسې جوخت د ولسوالۍ ودانۍ ته د ننه شي، خو د افغان ځواکونو له مقاومت سره مخ شول او له منځه یوړل شول. په پېښه کې د بازار ځایي هټیو ته مالي زیانوه هم اوښتي، خو ملکي تلفات یې خورا بوږنوونکي دي. څوارلس ملکیان چې ماشومان هم پکې شامل دي، ځای په ځای په دغه برید کې وژل کېږي.

په هېواد کې د کرونا تر وبا وروسته پرون د ښوونځیو د پیلېدو لومړنۍ ورځ وه او ماشومان په ټول هېواد کې د ښې راتلونکې په تمه ښوونځیو ته پر لار وو، خو د ځینو ماشومانو ډېوه په دې برید کې د تل لپاره مړه کړل شوه. د ننګرهار ځایي چارواکي هم وایي چې د برید تر شا د وسله والو طالبانو لاس دی او په مرکز کې د کورنیو چارو وزارت هم دغه برید د طالبانو کار بللی دی، خو طالبانو تر اوسه په دې اړه غبرګون نه دی ښودلی.

بلخوا ارګ په یوه خپره کړې اعلامیه کې ادعا کړې چې طالبانو په سیمه کې له نورو ترهګرو ډلو سره لاس یو کړی او دغه ډول خونړي بریدونه کوي. په اعلامیه کې راځي: ((طالبانو او نورو تروریستي ډلو د لاس په یو کولو سره خپلو تروریستي فعالیتونو ته دوام ورکړی او په ننګرهار کې د نننۍ تروریستي برید په څېر، هره ورځ د بې ګناه وګړو د وژل کېدو او د عام المنفعه تاسیساتو د ویجاړولو لامل ګرځي)).

ولسمشر غني دغه راز ویلي چې طالبانو د سولې پر هوکړه عمل نه دی کړی او یوازې پر بهرنیو ځواکونو یې بریدونه درولي دي. د ده په خبره، طالبان په خپلو بریدونو کې هره ورځ بېګناه وګړي، ښځې، ماشومان او سپینږیري وژني او د تېرې ورځې برید یې هم له اسلامي احکامو سره په ټکر کې عمل دی. د ولسمشر غني په وینا: ((د ملکي وګړو په ځانګړې ډول د ماشومانو وژل نه بښل کېدونکی جنایت دی، طالبانو د ا مریکا متحدو ایالتونو سره د سولې موافقتنامه لاسلیک کړه، خو بدبختانه خپلې ژمنې یې عملي نه کړې او یوازې یې پر بهرنیو ځواکونو خپل بریدونه ودرول)).

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د سولې له خبرو سره همهاله روان تاوتریخوالی د جدي اندېښنې وړ بللی دی او پر دواړو لورو یې غږ کړی چې ژر تر ژره یوې هوکړې ته سره ورسېږي او په هېواد کې د پردیو په لمسون او دسیسه روانه شوې جګړه ودروي.

د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې په هېواد کې دغه ډول خونړي بریدونه د سولې پروسې ته زیان رسوي او ټولو اړخونو ته په کار ده چې په دې حساسو شرایطو کې نور اوربند وکړي او د افغانانو له وژنې لاس په سر شي.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر یو میلیون او ۳۴ زره او ۶۸ ته رسېدلی

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۳۴ میلیونه او ۸۸۲ زره او ۹۲۵ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۳۴ زره او ٦٨ کسان مړه شوي او نږدې ۲٦ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د دغه ویروس د ډېرو مړو او مثبتو پېښو له له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له اوو نیمو میلیونو اوښتي او ۲۱۳ زره او ۵۴۳ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

په ورته وخت کې د ډیموکراسۍ د ملاتړ یو نړیوال سازمان فریډم هاوس وایي، د کووېډ-۱۹ خپرواي د ډیموکراسۍ کړکېچ نور هم ژور کړی دی. دا سازمان وایي، کرونا حکومتونو ته پلمه په لاس ورکړې چې انتخابات لغوه او د منتقدانو او رسنیو اواز غلی کړي. فریډم هاوس په خپل وروستي راپور کې وایي چې د کووېډ-۱۹ ناروغۍ خپرېدو د روغتیا په ګډون د بشري او ټولنیزو حقونو دفاع محدوده کړې ده.

فریډم هاوس د دغه راپور د چمتو کولو لپاره ۳۹۸ کارپوهان ګومارلي، څو په بېلابېلو هېوادونو کې د کرونا د وبا په ترڅ کې د ډیموکراسۍ څرنګوالی وارزوي. دغو کارپوهانو د جولای له ۲۹ مې د اګسټ تر ۱۵ مې پورې کار وکړ او همداراز آنلاین نظرپوښتنې یې وکړې. د دوی په نظرپوښتنه کې د نړۍ په ۱۰۵ هېوادونو کې د ډیموکراسۍ وضعیت څېړل شوی دی. پر دې سربېره فریډم هاوس د چارو د نړیوالو شنونکو یوه شبکه هم برابره کړې چې د نړۍ په ۱۹۲ هېوادونو کې یې د ډیموکراسۍ پر وضعیت رڼا اچولې ده.

دا سازمان په خپل راپور کې وایي چې د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له پیل راهیسې د نړۍ په اتیا هېوادونو کې د ډیموکراسۍ او بشري حقونو وضعیت لا خراب شوی او دا بدلون په هغو هېوادونو کې لا ژور دی چې د ډیموکراسۍ پر لور روان دي. په دې نظرپوښتنه کې د ګډونوالو کارپوهانو د معلوماتو له مخې، په هغو هېوادو کې چې په نسبي ډول استبداد پکې دی، ډیموکراسۍ لا سخته ضربه لیدلې ده.

د فریډم هاوس د راپور له مخې، په سلو کې ٦۴ کارپوهانو اټکل کړی چې د وګړو پر سیاسي حقونو او مدني آزادیو د کرونا ویروس ناوړه اغېز به په هغو هېوادونو کې چې دوی څېړنې په کې کړې له دریو نیولې تر پنځو کلونو پورې پاتې وي. هغو کارپوهانو چې د فریډم هاوس به نظرپوښتنه کې یې ګډون کړی، د څلورو مهمو ستونزو یادونه کړې چې لومړۍ د کووېډ- ۱۹ په اړه د معلوماتو په شریکولو کې د شفافیت نشتوالی، دویمه یې فساد، دریېمه یې د بېوزلو خلکو خوندیتوب او څلورمه یې له دولتي واک څخه ناوړه استفاده ده.

## د کتـاب خبرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري

## فرصتونه او ستونزې

لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### څلورم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې پرتې ستونزې




د سیمه‌ییزې همکارۍ پروړاندې ډېرې ستونزې پرتې دي د دغو ستونزو په شتون کې به د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا ستونزمنه او ان نا ممکنه وي، جگړه او ناامني، په سیمه کې دامریکا پوځي شتون، د سیمې هېوادونو ترمنځ په پراخه کچه د بې اعتمادۍ او نه باور شتون،د سیمه‌ییزو سترو قدرتونو ترمنځ سیالي او رقابتونه، د سیمې د اوسیدونکو ترمنځ کمزورې ټولنیزې اړیکې، د اقتصادي گټو پرځای سیاسي او امنیتي گټو ته لومړیتوب ورکول، سرحدي شخړې او د اوبو د وېش پر سراختلافونه، د سیمه‌ییزو سازمانونو کمروزی رول، د سیمه‌ییزو سوداگریزو تړونونو نشتون، اقتصادي او مالي ستونزې او محدودیتونه، د نشه یې توکو قاچاق او سازمان شوي جرایم، د افغانستان په حکومت کې ټیټ مسلکي ظرفیت او د حکومتي ادارو ترمنځ عدم هماهنگي او د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه د افغانستان د سیاسي او حکومتي مشرانو کمه پوهه او معلومات د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې اساسي او مهمې ستونزې گڼل کېږي.دلیکنې په دې برخه کې به د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې مهمې ستونزې په لنډ ډول وڅېړل شي .

**الف ـ جگړه او بې ثباتي**

په افغانستان کې ټولې هغه پروژې چې مرکزي اسیا له جنوبي اسیا سره نښلوي له جدي امنیتي گواښونو سره مخامخ دي د افغانستان له مرکز او لویو ښارونو پرته په کلیوالو او لرې پرتو سیمو کې امنیت او سوله نشته او په مختلفو سیمو کې جگړه روانه ده، جگړه او ناامني د هغو سترو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو د تطبیق پروړاندې چې د سیمې ځینې هېوادونه په کې برخه لري ستر او جدي خنډ گڼل کېږي .

د جگړې او امنیتي تهدیدونو له امله د یادو سترو سیمه‌ییزو پروژو د جوړېدو چارې یا نه دي پیل شوي او یا هم نه دي بشپړې شوي، نو په دې توگه ویلای شو چې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې تر ټولو ستر او مهم خنډ او ستونزه په افغانستان کې روانه جگړه او بې ثباتي ده په افغانستان او سیمه کې د وسله والو ډلو شتون او فعالیتونو په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات د ټینگښت مخه نیولې، له همدې امله د افغانستان حکومت د سیمې له هېوادونو سره د اړیکو او همکاریو د پراختیا، د سولې او ثبات دټینگښت او اقتصادي پرمختگ په موخه د اسیا زړه استانبول پروسه او د ریکا نوښت رامنځته کړي دي. ډېرې سترې سیمه‌ییزې اقتصادي پروژې له افغانستان او یا د افغانستان له گاونډ څخه تېرېږي، په افغانستان کې جگړه او ناامني د ټولې سیمې ثبات او امنیت له گواښ سره مخامخ کړی دی د جگړې د دوام په صورت کې به ډېره ستونزمنه وي چې سترې اقتصادي پروژې تطبیق شي، له همدې امله د سترو اقتصادي پروژو د تطبیق لپاره په افغانستان او سیمه کې د سولې او ثبات ټینگښت ډېر مهم گڼل کېږي .

**ب ـ امنیت محوره بهرني سیاستونه**

زموږ په سیمه کې تقریباً ټول هېوادونه په خپلو بهرنیو سیاستونواو تگلارو کې د اقتصادي گټو او اهدافوپرځای امنیتي او سیاسي گټو او اهدافو ته اهمیت او لومړیتوب ورکوي د سیمې د هېوادونو بهرني سیاستونه د اقتصادي گټو پرځای د ملي امنیت په خوندیتوب باندې ولاړ دي، له همدې امله د سیمې ډېر هېوادونه د سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو له تطبیق سره علاقه نه لري او هغه له خپل ملي امنیت سره په ټکر کې گڼي، نو امنیت محوره بهرني سیاستونه د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې ستر او جدي خنډگڼل کېږي.ترهغې پورې چې د سیمې هېوادونه په خپلو بهرنیو تگلارو کې مثبت بدلونونه رامنځته نه کړي او د امنیتي او سیاسي مسایلواو گټو پرځای اقتصادي گټو ته لومړیتوب ورنه کړي په سیمه کې د سیمه‌ییزو همکاریو او اړیکو پراختیا ستونزمنه وي، د سیمې هېوادونه باید د خپل ملي امنیت او ثبات پرځای د سیمه‌ییز امنیت خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي .د سیمې د هېوادونو له لوري سیمه‌ییز امنیت او ثبات او اقتصادي گټو ته ارزښت او اهمیت ورکول به د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي .

**ج ـ د مختلفو سیاسي نظامونو شتون**

زموږ په گاونډ او سیمه کې د هېوادونو سیاسي نظامونه له یو بل سره ډېر توپیر لري، د بیلگې په توگه دجنوبي اسیا او مرکزي اسیا د هېوادونو د سیاسي نظامونو ترمنځ ښکاره توپیر لیدل کېږي په هند، پاکستان، بنگله دېش او سریلانکا کې حکومتونه او د حکومتونو مشران د ټاکنو په وسیله ټاکل کېږي، په هند کې ډیموکراتیک نظام، په پاکستان کې نیمه ډیمو کراتیک نظام، په نیپال کې شاهي او په سریلانکا کې جمهوري سیستم موجود دی. په ایران کې جمهوري اسلامي نظام، په چین کې د کمونیست گوند واکمني او په مرکزي اسیا کې کمزوري ډیموکراتیک سیستمونه موجود دي او واک د ولسمشرانو په لاسونو کې دی، د بیان ازادي نشته، د مرکزي اسیا هېوادونو مشران له ازاد اقتصادي سیمستم سره مخالف دي، په روسیه او چین کې هم ډیموکراتیک سیستمونه نشته، نو په سیمه کې د مختلفو سیاسي سیستمونو شتون د دې سبب شوې چې د سیمې د هېوادونو لومړیتوبونه له یوبل سره توپیر پیداکړي، د سیمې په هېوادونو کې د ورته سیاسي سیستمونو نشتون د دې سبب شوی چې د سیمې هېوادونه له موجودوسیمه‌ییزو فرصتونو څخه اغېزمنه اوپوره استفاده ونه کړي او د سیمه‌ییزې همکارۍ په تړاو مختلف لیدلوري ولري. په سیمه کې د مختلفو سیاسي سیستمونو شتون چې له یو بل سره توپیر لري د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې ستر خنډ گڼل کېږي .

دوام لري...

# حنظله د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




حنظله د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ او د دې وزارت د رسمي جواز پر بنسټ، د ۱۳۹۳ کال په مني کې د بادغیس ولایت په مرکز کې د دوو پوهنځیو (حقوقو او سیاسي علومو او ښوونې او روزنې) په درلودو سره فعالیت پیل کړ. د فعالیت یې شپږ کاله کېږي او تر اوسه پورې همدا دوه پوهنځي لري. د لوړو زده کړو د دې موسسې رییس عبدالهادي خلیق وایي، چې حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) او ښوونې او روزنې پوهنځی یې بیا د (دینو علومو، پښتو ادبیاتو، دري ادبیاتو، بیولوژي، ریاضي او فزیک) ډیپارټمنټونه لري.

په حنظله د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال د زرو په شاوخوا کې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې دېرش سلنه یې ښځینه محصلین تشکیلوي. د خلیق په خبره، دا چې دوی په ښوونه او روزنه پوهنځي کې څوارلسم پاس محصلین هم نیسي، نو تر اوسه پورې یې له دې پوهنځي څخه شپږ دورې محصلین د لیسانس په کچه فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. دی وایي، له حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څخه یې بیا تر اوسه پورې درې دورې محصلین فارغ کړي. د نوموړي په خبره، په ټوله کې یې د فارغ شویو محصلینو شمېر د ٦۰۰ شاوخوا ته رسېږي. عبدالهادي خلیق وایي، ډېری محصلین یې خپله په بادغیس ولایت او د هېواد په نورو ولایتونو کې پر دندو بوخت دي.

د حنظله د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د رییس په خبره، په کلني ډول یې د نویو محصلینو د جذب کچه متفاوته وي، چې تر ډېره له امنیتي او اقتصادي وضعیت سره تړلې وي؛ خو په خبره یې، دا چې خصوصي پوهنتونونه په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینه اخلي، نو ویلای شي چې په اوسط ډول په کال کې دوی د پنځو سوو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. عبدالهادي خلیق وایي، د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدریس چارې د پر کارپوه، مسلکي او تجربه لرونکو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې په ډله کې یې ښځینه استاداني هم شته. دی وایي، ډېری استادان یې د دې موسسې دایمي استادان دي، چې د دوکتورا، ماسټرۍ او ډېری یې بیا د لیسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. ښاغلی خلیق وایي چې د استادانو د مقررۍ پروسه یې ډېره ستونزمنه ده او له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په دې برخه کې له دوی سره مرسته وکړي. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې د لوړو زده کړو وزارت له مقرراتو سره سم او په ټولو معیارونو برابر استادان پر دندو وگوماري. دی وایي چې د کار کوونکو په ډله کې یې هم ښځینه کار کوونکې شته. د نوموړي په خبره، په بادغیس ولایت کې د دوی موسسه یوازینۍ هغه ده چې ډېرې ښځینه محصلینې لري.

د حنظله د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، له شک پرته چې هر خصوصي تحصیلي بنسټ د محصلینو لپاره د تخفیف ځانگړې کټه‌گورۍ لري. دی وایي، دوی هم په دې برخه کې یوه ځانگړې کمېټه لري، چې محصلین ارزیابي کوي او د محصل اقتصادي وضعیت ته په کتو ورته مناسب تخفیف ورکوي. ښاغلی خلیق وایي، همدا اوس هم ځینې محصلین له دوی سره په وړیا ډول زده کړې کوي، چې ډېری یې د شهیدانو او معلولینو د کورنیو غړي دي. دی وایي چې له لس سلنې نیولې تر پنځوس سلنې پورې تخفیفونه لري چې لږ تر لږه سل محصلین یې له دې تخفیف برخمن دي.

دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې تر ډېره هغه کسان زده کړې کوي، چې تر څنگ یې رسمي او غیر رسمي دندې هم لري، نو حنظله د لوړو زده کړو موسسې هم د خپلو محصلینو لپاره د ورځې په دوو وختونو کې د زده کړو زمینه برابره کړې ده.

د دې موسسې اداره وایي چې د محصلینو او استادانو لپاره یې یوه مجهز او غني کتابتون برابر کړی، چې محصلین کولای شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه گټه واخلي او کتابونه پکې مطالعه کړي. د دې تر څنگ، کمپیوټر لب او لابراتوار هم د دې موسسې له هغو امکاناتو څخه دي چې د محصلینو په واک کې یې ورکړي دي. شنه ساحه، پارکېنگ، لومړنۍ روغتیایي مرستې او نورې ټولې هغه اسانتیاوې یې محصلینو ته برابرې کړې دي چې یو تحصیلي بنسټ یې باید ولري.

د لوړو زده کړو د دې موسسې رییس وایي چې په کور د ننه له ډېرو پوهنتونونو او ځینو نورو بنسټونو لکه بانکونو او نورو سره اړیکې او هوکړې لري، چې له مخې یې د خپلو محصلینو د تجربو لوړولو لپاره ورڅخه گټه اخلي. دی وایي، خپله په بادغیس ولایت او د هېواد د ځینو نورو ولایتونو له خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري. ښاغلی عبدالهادي خلیق وایي، له هېواده بهر له پوهنتونونو سره د علمي اړیکو د هوکړو لپاره باید له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ پرېکړه وشي، چې د دې کار لپاره یې ځینې معیارونه وضع کړي دي. نو له همدې کبله تر اوسه پورې دوی له هېواده بهر له کوم پوهنتون سره اړیکې یا د علمي اړیکو هوکړه نه لري، خو هڅه یې دا ده چې په راتلونکې کې دغه ډول هوکړې ولري.

د ښاغلي عبدالهادي خلیق په خبره، تر اوسه پورې یې چې څومره محصلین فارغ کړي، د پوهنتون لخوا ورته د لوړو زده کړو وزارت په تاییدۍ تحصیلي اسنادونه ورکړل شوي دي، څو محصل له خپل دې قانوني حق څخه برخمن شي او د یادو اسنادو پر مټ په کور د ننه دندې تر سره کړي او یا هم نورې لوړې زده کړې پرې وکړي.

د حقوقو پوهنځي د محصلینو د وړتیا لوړولو او عملي کار لپاره د حقوقي کلینیک درلودل، کتابتون، کمپیوټر لب، لابراتوار او نور د حنظله د لوړو زده کړو موسسې هغه امکانات دي چې د محصلینو په واک کې یې ورکړي دي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي او دولتي پوهنتونونو ته په یوه سترگه وگوري او د خلکو هغه ادعاوې ناسمې ثابتې کړي، چې گواکې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي او دولتي پوهنتونونو تر منځ توپیر کوي. د موسسې رییس عبدالهادي خلیق وایي چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو د استادانو په مقررۍ کې کله نا کله ستونزې جوړوي او تر څنگ یې د خصوصي پوهنتونونو استادان له هغو حقونو بې برخې دي، چې د دولتي پوهنتونونو استادانو ته ورکول کېږي؛ ځکه که یو استاد په خصوصي پوهنتون کې هر څومره ډېر کلونه تدریس وکړي، علمي رتبې نشي اخیستی. دی وایي چې لوړو زده کړو وزارت باید خصوصي پوهنتونونه حمایه کړي، څو پرمختگ وکړي او پر خپلو پښو ودرېږي. د ده په خبره، لوړو زده کړو او مالیې وزارت خصوصي پوهنتونونو ته د یوه تجارتي مرکز په سترگه گوري، چې ډېره کله د دوی د پرمختگ مخه نیول کېږي؛ ځکه له دوی څخه په ډېره لوړه کچه مالیه اخیستل کېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۸۵ |
| € | ۸۹,۱۰ |
| Rp. | ٤۷۳ |
| ₹ | ۱۰۳۵ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۸,۳۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# ترکيه ولې د اذربايجان ملاتړ کوي؟

بي بي سي پښتو

د اذربايجان او ارمنستان تر منځ د ناگورنو قره باغ پر سر د جنجال بيا تازه کېدو پسې ترکيې په زغرده د باکو ملاتړ وکړ.
انکره له کلونو راهيسې د باکو ملاتړ کوي، خو اوسنۍ ښکېلتيا يې حکومت ته دا نوی چانس ورکوي، چې نه يوازې بهرني سياست کې خپله وړتيا ننداره کړي، بلکې په کور کې نېشنلېستي احساسات هم ډېر کړي.
د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان د سپټمبر په ۲۸مه د باکو د ملاتړ ژمنه وکړه او ويې ويل، ارمنستان بايد سملاسي د اذربايجان له نيولې خاورې ووځي.
ترکيې په وروستيو کې ليبيا او سوريه کې هم مداخله وکړه او عراق کې يې د کارگر گوند پر ضد عمليات روان دي. وروستيو مياشتو کې يې ختيځه مديترانه کې پر طبيعي زېرمو له فرانسې سره لانجه هم پيدا شوې ده او له دې ټولو سره سره ترکيه اوس د ناگورنو قره باغ د نيولو لپاره اذربايجان ته هم نږدې کېږي.
نړيواله ټولنه ناگورنو قره باغ د اذربايجان ملکيت مني، خو د ۱۹۸۸ - ۹۴ کلونو تر منځ د پخواني شوروي اتحاد د دې غړو هېوادونو له خپلمنځي جگړې وروسته، د ارمنيايي توکمه کسانو له لوري کنټرولېږي.
د ترکيې قادر هاس پوهنتون جون ماشت کې د بهرني سياست په هکله د خلکو د درک نظرپوښتنه وکړه، چې ښيي ۶۵،۳ سلنه وگړي اذربايجان د خپل هېواد «تر ټولو نږدې ملگری» بولي او په دې وروستيو نښتو کې د ترکيې لوړپوړو چارواکو او مهمو رسنيو «د اذربايجاني ورونو» سخت ملاتړ وکړ.
د حريت ورځپاڼې سرليکوال احمد هاکان د سپټمبر په ۲۸مه وليکل: «زموږ ژبه يوه ده. کلتوري سرچينې مو يو دي. ولسي سندرې مو يو دي. د پېښو بهير کې زه هغه حس لرم چې زموږ بې گناه اذربايجاني ورونه يې لري.»
دا ځل څه بدل دي؟
د رپوټونو له مخې، د ۱۹۹۰ يمې لسيزې په لومړيو کې د ناگورنو قره باغ پر سره له ارمنستان سره د اذربايجان جگړه کې ترکيې دغه هېواد ته وسله او پوځي سلاکاران ولېږل. دواړو هېوادونو په ۲۰۱۰ کال کې د ستراتيژيکې همکارۍ او خپلمنځي ملاتړ تړون هم لاسليک کړ.
سږنۍ جولای مياشت کې د اذربايجان او ارمنستان تر منځ د نښتو له پيلېدو سره انکرې د باکو ملاتړ ډېر کړ.
د دواړو هېوادونو هوايي او پليو ځواکونو د جولای له ۲۹مې د اگست تر نيمايي په اذربايجان کې گډې مانورې درلودې.
د ترکيې د دفاعي صنعت ټولنې مشر اسماعيل دمير هغه مهال د اذربايجان چارواکو ته وويل: «د ترکيې بې پيلوټه الوتکې، مهمات، توغندي او د برېښنايي جنگ سيستمونه به تل د اذربايجان تر امر لاندې وي.»
د رپوټونو له مخې، اذربايجان په وروستيو نښتو کې د ترکيې وسلهوالې او بې وسلې بې پيلوټه الوتکې د ارمني ځواکونو پر ضد کارولې دي.
په سوريه، لبيبا او همدارنگه د کورد وسلهوالو پر ضد د ترکيې په عملياتو کې د دغه هېواد جوړو بې پيلوټه الوتکو ته په وروستيو کلونو کې نړيوال پام اوښتی دی.
ارمنستان د سپټمبر په ۲۸مه وويل، ترکيه په سيمه کې مخامخ ښکېله ده او اذربايجان د ترکيې بې پيلوټه او جنگي الوتکې کاروي. دغه هېواد پر انکره دا تور هم ولگاوه چې سوريايي وسلهوال د اذربايجان جگړې ته لېږي.
کورنې شرايط څنگه دي؟
د ناگورنو قره باغ پوځيان وايي، اذربايجانيانو ته يې ډېر تاوان رسولی دی. کورنۍ سياسي محاسبې له اذربايجان د ترکيې د ډېرېدونکي ملاتړ يو اصلي لامل دی. د اردوغان حکومت په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کال هڅه وکړه چې له ارمنستان سره پخلا شي، خو د ناگورنو قره باغ پر سر د اختلاف له امله يې دا هڅې ماتې شوې. له هغه وروسته د انکرې دريځ ورځ تر بلې سخت شوی، په تېره له ۲۰۱۵ کال راهيسې چې ټاکنو کې د ښاغلي اردوغان رايې پوره ښې نه دي، نو غوره گڼي چې ولسي ملاتړ يې ډېر شي.
عدالت او پراختيا گوند په وروستيو کلونو کې د ترکيې له ملي خوځښت گوند سره په نږدې يووالي داسې ملتپاله يا نېشنلېستي لار غوره کړې ده، چې په ۲۰۱۵ کال له پې کې کې سره د سولې خبرو له ماتې وروسته د کوردانو د سياسي غورځنگ د ځپلو سبب شوه. خو نړيواله ماجراجويي او يرغليز شعارونه د ترکيې لپاره لويې اقتصادي ننگونې لري او هم داسې رپوټونه دي چې نظرپوښتنو کې د اردوغان گوند بد وضعيت لري.
د انرژۍ لرونکو سرچينو اهميت څومره دی؟
اذربايجان د انرژۍ په برخه کې د ترکيې يو اصلي شريک دی. دا هېواد د خپلې اړتيا وړ انرژۍ لويه برخه له بهر پوره کوي.
د رپوټونو له مخې، تېره مې مياشت کې ترکيې نږدې دريمه برخه طبيعي گاز له اذربايجان پوره کړی. د خزر سمندرگي تېل هم د مديترانې سمندرگي جيحان بندر ته لېږل کېږي.
وروستيو کلونو کې ترکيې ته د روسيې د طبيعي گاز صادرات کم شوي او کارپوهان دعوه کوي چې مسکو غواړي د انرژۍ په برخه کې د انکرې او باکو اړيکې خرابې کړي.
د ترک خبر وېبپاڼې ليکوال جتينر جتين د سپټمبر په ۲۸مه وليکل، چې له روسيې سره د ترکيې د طبيعي گاز اوسنی تړون په ۲۰۲۱ کال کې پای ته رسېږي. هغه زياته کړه: «موږ به د ترانس-اناتولين طبيعي گاز نلليکې سره دا اړتيا پوره کوو. دا نلليکه د اذربايجان گاز تر اروپا رسوي. دا حالت د روسيې لپاره بس دی چې د اذربايجان او ارمنستان پولې بې ثباته کړي.»
د ترک خبر کالم ليکوال کورساد زرلو هم د ترکيې او اذربايجان د انرژۍ اړيکې د انکرې له سيمه ييز ځواک سره تړي او وايي: «يوازې د اذربايجان د حاکميت حق خطر کې نه دی، د ترکيې د انرژۍ اړتيا او سيمه کې يې دريځ هم له خطر سره مخ دی.»
د روسيې پر ضد نوې جبهه؟
ځينې کارپوهان وايي، قفقاز کې د ترکيې شتون د روسيې ضد نوې جبهې پرانيستل دي، چې اوس له ترکيې سره سوريه او ليبيا کې ستونزه لري. ترک رسنۍ تر ډېره قفقاز د روسيې تر اغېز لاندې بولي او مسکو تر ډېره د ارمنستان ملاتړی بلل کېږي. مسکو او ايروان د يو بل دفاعي ملگري دي او روسيه د ارمنستان او ترکيې پولې ته نږدې گيومري کې پوځي اډه هم لري.
د حريت ورځپاڼې کالم ليکوال عبدالقادر سلوي د سپټمبر په ۲۸مه وويل: «وروستيو پېښو بيا وښوده چې د سيمې د دوو سترو هېوادونو يانې روسيې او ترکيې له شتون پرته ارامي نشي راتلی. » خو نوموړي د روسيې ولسمشر ويلاديمير پوتين په ارمنستان کې «اصلي» لوبغاړی وباله. هغه زياته کړه: «ترکيې په قفقاز کې د روسيې د حقيقت له منلو پرته گام نه دی پورته کړی، همکاري يې غوره بللې، خو روسيې ورته چلن نه دی کړی.»
د ترک خبر کالم ليکواله ناگهان الجي وايي، دې نښتو ارمنستان کې د روسيې او اذربايجان کې د ترکيې نفوذ ډېر کړی دی. هغه وايي: «روسيه خوشاله ده، دې نښتو د ارمنستان حکومت کې د روسيې ضد هر ډول نظر له منځه وړی دی. »
مېرمن الجي زياتوي: «له دې بريدونو وروسته روسيې اول ځل قفقاز کې له ترکيې سره د خبرو د اصلي لوري په توگه چلن وکړ او د بهرنيو چارو وزير يې سرگي لاوروف له ترک سيال مولود چاووش اوغلو سره تماس ونيو.»
نور څه کېږي؟
له اذربايجان د ترکيې ملاتړ دا مانا لري چې قفقاز سيمه به له هغو سيمو سره يو ځای شي، چې بهرنی سياست يې ور پورې تړلی وي.
که څه هم روسيه، ايران، اروپايي ټولنه او امريکا اوربند غواړي، خو ترکيه اذربايجان ته د يووالي لاس ورکوي او ژمنه کوي چې باکو هره پرېکړه وکړي، دوی به يې څنگ ته ولاړ وي.
دا بېله خبره ده چې په نږدې راتلونکي کې به تاوتريخوالی کمېږي يا زياتېږي، خو له سياسي شرايطو ښکاري چې له اذربايجان سره به د ترکيې ملاتړ وي.

## د سولې مرکچي پلاوي: خلک دې اندېښنه نه کوي، د سولې خبرې پر سم لوري روانې دي

د افغانستان د دولت مرکچي پلاوی وايي، د سولې په روانو خبرو کې څېړل شوي مسايل د راتلونکو خبرو د پرمختگ لپاره پوخ بنسټ کېدای شي. دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د افغان دولت او طالبانو د پلاوو ترمنځ د خبرو له پيله درې اونۍ تېرېږي، خو تراوسه هم کوم مهم پرمختگ نه ترسترگو کېږي.
د حکومت د مرکچي پلاوي غړې فوزيه کوفي وايي، په روانو خبرو کې داسې مسايل هم شته چې بايد په راتلونکي کې بحث پرې شوی وای، خو دواړو خواوو په روانو خبرو کې څېړلي دي.
کوفي دا په دوحه کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو مثبت اړخ بولي او وايي اوسنۍ خبرې د راتلونکي لپاره يو ښه اساس جوړوي.
هغې زياته کړې: «بحثونه که له تخنيکي پلوه يوڅه وخت اخلي او اوږدېږي، خلکو ته اندېښنه پيدا کېږي، ځکه دوی غواړي نتيجه ووينې، خو زما تصور دا دی چې موږ پر سم لوري روان يو، مگر يوازې دا خبرې بايد چټکې شي، زما په نظر ټول هغه موارد چې ښايي شپږ مياشتې وروسته مطرح شوي وای، مطرح شوي دي چې دا بيا په راتلونکي کې د خبرو د بريا لپاره ډېر ښه بنسټ ايښودلای شي.»
کوفي زياتوي، افغانان حق لري چې د سولې له مرکچيانو څخه بېړه وغواړي، خو په خبره يې چې خبرې اوس هم وروسته نه دي پاتې او له ټاکلي هدف سره سم روانې دي.
په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند محمدنعيم هم وايي چې طالبان د خبرو روان جريان ته خوشبين دي. نعيم ازادۍ راډيو ته ويلي چې طالبان د پاتې ستونزو حل ته هيله من دي.
بلخوا د سولې په چارو کې د دولت وزارت وياندې ناجيې انوري ويلي چې د دولت د مرکچي پلاوي غړي به خپلو غونډو ته دوام ورکړي.
هغې زياته کړې: «د افغانستان د اسلامي دولت د مرکچي ټيم کورنۍ او عمومي غونډې به دوام وکړي، همداراز د غونډو د طرزالعمل د بشپړولو لپاره کار به هم روان وي.»

## امريکا: د روانې مياشتې تر پايه په افغانستان کې ۴۰۰ پوځي اډې نړوو

امريکايي چارواکي وايي، چې په افغانستان کې به د روانې مياشتې تر پايه ۴۰۰ پوځي اډې ونړوي او ټول سرتېري به يې پنځو لويو اډو ته راټول شي.
دوی وايي چې امريکا تر دې وړاندې هم په افغانستان کې خپلې ډېرې پوځي اډې نړولې او د پاتې نورو هغو د نړولو کارونه به د روانې مياشتې تر پايه بشپړ شي. امريکايي چارواکو زياته کړې چې اوسمهال له يادو اډو د سرتېرو ايستلو



چارې پيل شوې او ټول به په پنځو اډو کې راټول شي. د دوی په خبره، د امريکا حکومت تر دې مهاله د خپلو پنځو نورو لويو اډو په تړاو پرېکړه نه ده کړې. د امريکايي چارواکو په وينا، حکومت يې پر دغو پنځو اډو ميلياردونه ډالر لگولي او په پرمختللو سيستمونو سمبال دي، خو د افغان ځواکونو لپاره يې کارونه او کنټرول ډېر سخت وي.
د يادونې ده چې د امريکا دغه پنځه لويې نظامي اډې په بگرام، کندهار، ننگرهار، بلخ او فراه ولايتونو کې دي چې اوسمهال زرگونه امريکايي سرتېري پکې مېشت دي.

مسير ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر خلورمه | ٦۰٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۸ | ۳۲ | ۲۷ | ۳٤ | ۳۰ |
| ۱۰ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۲ | ۱۹ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۷ | لمر ختل ۰۵:٤۹ | ماسپښين ۱۱:٤۳ | مازیګر ۰۳:۰۳ | ماښام ۰۵:۳۵ | ماخوستن ۰٦:۵۸

## نړۍ





## سي ان ان: د امریکا ګڼ حکومتي چارواکي د راتلونکو ټاکنو له کبله احتمالي ګډوډیو اندېښمن کړي

په داسې حال کې چې د امریکا ټاکنو ته د ګوتو په شمېر ورځې پاتې دي، په یاد هېواد کې لاریونونه او وسله وال بریدونه ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي.

سي ان ان وايي، د امریکا یو شمېر ښاري حکومتي چارواکي، فدرالي او سیمه‌ییز قانون پلي کوونکي د راتلونکو ټاکنو په اړه اندېښمن دي. یادو چارواکو له سي ان ان سره په خبرو کې ویلي، ښاري حکومتونه په دې هڅه کې دي چې د راتلونکو ټاکنو پر مهال د ګډوډیو مخه ونیسي. راپور کاږي، یو شمېر شرکتونه، افراد او ځینې چارواکي بیا هڅه کوي چې د ګډوډیو په جوړولو سره د ټاکنو پایلې د ځان په ګټه راوڅرخوي. چارواکو ویلي، چې دوی ان اوس لا له مدني ناکراریو او تاوتریخوالي سره د مبارزې پر پلانونو بوخت دي. د سنسناټ ښاروال جان کرینلي چې د پولیس قوماندانانو د کاري ځواک مشري هم پر غاړه لري ویلي، وایي اندېښمن دی، ځکه وېره لري چې ښایي د رایو شمېرنه په اونیو او ان میاشتو وخت ونیسي چې دا چاره به د ګډوډیو لامل او امریکا به له بې ساري کورنیو ناکراریو سره مخ کړي دي.

## ارمنستان: چمتو یو چې له اذربایجان سره د سولې خبرې پیل کړو



له څو ورځنیو سختو جګړو او نښتو وروسته ارمنستان وايي، چمتو دی چې د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان له لارې له آذربایجان سره د سولې خبرو ته کېني.

دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ مشرانو د نګورنو قره باغ د لانجمنې سیمې پر سر د ارمنانو او آذربایجان د پوځ د جګړې د سمدستي بندېدو غوښتنه کړې ده. په نګورنو قره باغ سیمه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ دا جګړه د سپټمبر په ۲۷ مه پیل شوې چې سلګونو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده.

په دې جګړه کې د راپورونو له مخې، له دوو سوو زیات کسان چې ملکي وګړي هم په کې دي، وژل شوي او سلګونه نور ټپیان شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې دمه ارمنستان او آذربایجان د جګړې بندولو ته هېڅ لېوالتیا نه وه ښودلې. د یادونې ده چې د نګورنو قره باغ اکثریت وګړي ارمني تبري دي، خو دا سیمه د آذربایجان په قلمرو کې دننه پرته ده. د ارمنستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د دغه بحران د حل لپاره د فرانسې، روسیې او امریکا د منځګړیتوب د طرحې هرکلی کوي.

دا دري هېوادونه د مېنسک د ډلې په نوم یادېږي چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې یې په نګورنو قره باغ کې د ماتېدونکي اوربند نوښت کړی و. هغه مهال د ارمنستان او آذربایجان په جګړه کې له دېرش زرو زیات کسان وژل شوي وو.

## باشنده گان کابل: دزدی‌های مسلحانه در شهر کابل به‌گونۀ بی‌پیشینه افزایش یافته‌اند



شماری از شهروندان کشور می‌گویند که اخیراً دزدی‌های مسلحانه در شهر کابل به‌گونۀ بی‌پیشینه افزایش یافته‌اند و این وضعیت آنان را نگران ساخته‌است.

در همین حال، شماری از کسانی که تجربه رویارویی با دزدان مسلح را داشته‌اند و دارایی‌های شان را دزدان گرفته‌اند، می گویند که حالا با تاریک شدن هوا، جرأت نمی کنند از خانه‌های شان بیرون شوند.

این شهروندان، پولیس را به ناکامی متهم می‌سازند و می گویند که اگر وضعیت به همین منوال ادامه یابد، مردم به پولیس و نیروهای امنیتی بی باور خواهند شد. صفی‌الله عرب‌زاده که باشندۀ منطقۀ دهبوری ناحیه سوم شهر کابل است، می گوید که این منطقه دزدان مسلح روز و شب بی‌هیچ‌گونه هراسی گشت و گذار می کنند.

صفی‌الله می گویدکه چندی پیش دزدان مسلح لپ تاپش را از نزدش گرفتند: «چند بار، ما شکایت خود را به حوزه رساندیم، به ۱۱۹ زنگ زدیم، وکیل منطقه را گفتیم، ناحیه را گفتیم؛ اما هیچ نتیجه نداد.»

شفیق‌الله، باشندۀ دیگر دهبوری است، او تجربۀ مشابهی از رویارویی با دزدان مسلح دارد: «اگر دولت نمی‌تواند، خوب ما را مسلح بسازد که ما بتوانیم امنیت خود را خودمان بگیریم.»

در حالی که وزارت داخله از مردم می‌خواهد که در شناسایی و بازداشت مجرمان با پولیس همکاری کنند، اما امام مسجد منطقه دهبوری می گوید که چند هفته پیش مردم محل دو تن از دزدان را بازداشت کردند؛ اما با برخورد دگرگون پولیس روبه‌رو شدند: «دزدان را گرفتار کردند، به حوزه بردند و قاری صاحبان را گرفته بود، قاری صاحبان را در همان حوزه نشانده بودند که از شما تحقیقات می‌شود، اما دزدان رفته بودند.»

## ژوند

## سوني نوی ځیرک موبایل معرفي کړ



سوني کمپنۍ خپل نوی پیاوړی ځیرک موبایل، سوني اکسپریا۵ مارک ۲ معرفي کړ. د یادونې ده چې د سوني کمپنۍ د دې لړۍ ځیرک موبایلونه د فوټوګرافۍ لپاره غوره هارډویر او سافټویر لرلو له امله نړیوال شهرت لري. سوني کمپنۍ خپل دغه ځیرک موبایل کې ٦,۱ انچه اولېډ ډوله مخپاڼه ورکړې چې ۱۰۸۰ پکسل ریزلوشن لري او ۱۲۰ هرتز ریفرش ریټ څخه ملاتړ کوي. سوني اکسپریا۵ مارک ۲ کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۸٦۵ ډوله پروسېسر، ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ – ۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا ورکړل شوې دي. دغه ځیرک موبایل له میموري کارت څخه هم ملاتړ کوي. دغه ۵جي څخه ملاتړ کوونکی ځیرک موبایل شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۱۲ میګاپکسله اصلي، ۱۲ میګاپکسله الټرا واېډ او ۱۲ میګاپکسله 3X زوم څخه ملاتړ کوونکې کامرې لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۹۵۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې او د سپټمبر په وروستیو کې به رسماً خرڅلاو ته وړاندې شي.

## د سفر پر مهال څنګه سپما وکړو؟



سفر کول او له بېلابېلو ځایونو څخه لیدنه د انسان په تجربو کې زیاتوالی راولي او په هر اړخیزه توګه یې فکر ژور بدلون مومي؛ ځکه سفر کول د دې لامل کېږي چې تاسو نوي ځایونه وګورئ، له نویو خلکو سره وپېژنئ او اړیکه ورسره ټینګه کړئ، فکر مو بدل کړئ او خپل ورځنی تکراري ژوند یو څه بدل کړئ. دغه څه په ژوند کې ډېر مهم دي، خو څه وکړو چې هم نورو ځایونو ته سفر وکړو او هم راته ارزانه پرېوځي؟ کله چې په ټولنیزو شبکو کې د خلکو عکسونه وینئ چې د نړۍ ګوټ ګوټ ته سفر کوي او له ژوند څخه خوند اخلي، څه فکر کوئ دوی ټول بډای خلک دي؟ نه! دوی ټول شتمن نه دي؛ ځینو یې خپل فکر په کار اچولی او داسې ځایونو او کارونو ته یې لومړیتوب ورکړی چې سفر کول ورته ارزانه تمام شي. له داسې سوداګریزو مرکزونو لیدنه وکړئ چې په ځانګړو ورځو کې تخفیف پکې اعلانېږي او یا له داسې ځایونو څخه لیدنه وکړئ چې سیل یې لګښت نه لري.

د انجوګانو لپاره جاري حساب

عزیزي بانک د انجوګانو لپاره ځانګړی محصول طراحي کړی. د انجوګانو لپاره د جاري حساب د طراحي موخه، د انجوګانو د معاملاتو لپاره جلا سیستم، غوره او ارزښتمنې چوپړتیاوې او یاد سکتور سره د اړیکو ښه مدیریت دی. د انجوګانو حساب په څلور اسعارو: افغانیو/ډالرو/یورو/انګلیسي پوندو پرانېستل کېدای شي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره له 1515/0093701801515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ او یاهم د عزیزي بانک له نږدې ځانګې څخه لیدنه وکړئ

عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank